


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# سميع الدين « افغاني »

تاريخ نشر: 1 جنورى 2025 ميلادى

# يو ښه فرصت

زه پـــه قلم د زمـــاني برباد وختونه ليکم
رقيبه ستا د ناکـــردو بـد حالتونـــه ليکم
زه د خلقت د رنګينو د راز او نياز سره يم
د حقيقت د لارې مل ، نه چې مجاز سره يم
چاچې د مال او د شهرت په طرف لار نيولې
په زور زياتي د شرارت په طرف لار نيولې
په زورواکي ځانله هوس ځانله جلال غواړي
دځان خوښي او سعادت دبـل مـــلال غواړي
په خوله يوه وينا کوي په زړه کې بله وايي
په زور واکي او رزالت خبره خپله وايي
د انسانيت او شرافت اصلي معنى ترې ورکه
د دغه ژوند د ختميدو او انتها تــرې ورکه
په ذلالـــت انساني ژونـــد د تيريدلـــو ندى
هر پاک ضمير ته دا خصلت هيڅ دمنلو ندى
څه د انسان د سپيڅلتوب اوحقانيت سره څه
نور د ژوندون اصلي معنې او ماهيت سره څه
د ژوند معني د انسانيت او شرافت خبر ده
دزړه اخلاص د صداقت او د عـــزت خبر ده
دغه ژوندون يو ازمايښت يو امتحان وګڼه
يوښه فرصت د عبادت د پاک سبحان وګڼه

***

سميع الدين « افغاني »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی